ژباره: سراج ا لحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۰/۰۹/۰۸م

# د استخباراتستان ارتباتي سړی او د پاکستان ترهګرې ډلې

د جګړې مالوماتي ویبپاڼې څخه، لیکوال: الکساندر بینش

د پاکستان متقاید جنرال حمیدګل د نورو خبرې رسنیو په شان د شپیګل مجلې له خوا هم تورن کړل شوي دی چې دې په متواتر ډول د القاعدې له مخکنې غړو، مشرانو او له طالبانو سره ګوري. دې په افغانستان کې د ناټو ځواکونو پر وړاندې ځانمرګه بریدونو ته لارښونه کوي. د ویکیلیس ویبپاڼې دڅه باندې نوې زرو افشآ شویو اسنادو خپرولو په لړ کې د متحده ایالاتو پوځ په اړه د افغانستان د جګړې له ډګر څخه راپورو نه په کې ورکړل شوي.
حمیدګل د سي آی اې له خوا د پاکستانې ځارګرې اداري اې اس اې مشر په توګه نومول او ټاکل شوي وو. د سي آی اې مرکزي مشر میلت باردن او په پاکستان کې د امریکې سفیر، ارنې رافایل، دې یې د پاکستان د راتلونکې احتمالې ولسمشر په توګه هم غوره کړی دی. باردن وایې، ګل به کوم وخت معاف شي او له همدې سره به لودیځوال حکومتونه او ډلیزه رسنۍ پر ده راټول شي او هڅه به وکړي چې هرڅه چې په پاکستان کې ګاړه او یا کړکیچن حالات یې رامنځ ته کړي دي، ده پورې به وروتړل شي.
ګل د لندن څخه خپریدونکې ورځپاڼه فاینشیال ټایمز سره په مرکه کې وایې. زه د امریکایانو د خرابیو ، تیروتنو او ګناهونو یو نازولې آدرس ګرځیدلې یم. دوی هېڅ تصور نه شي کولې چې افغانان په خپله جګړې ګټلې شي . دا به ډیر د شرم ځاې وي چې یو څلور اویا کلن متقاید جنرال دافغانستان په مجاهدینو کې راسوهنه وړکړي او امریکا ته سخت ګوزارونه ورکړي.
— ترهګرې ډلې
دلویدیځ ځارګرې اداري د خپلو اغیزو څخه په ګټه اخیستلوسره پاکستان کې دخپلو پلانو په ترسره کولو کې له اې اس اې څخه کار اخلې. د دوی له خوا په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول هڅه کیږي پر هغه اورپکې ډلې په نامه دمجاهدین، طالبان او القاعده باندې پیژندل شوي اغیزه ولري. د پاکستان اې اس اې د سي آې اې سره ډیر ې ښې اړیکې لري. دا جوته خبره ده چې د پاکستان اې اس اې د لشکرې طیبه، جهش محمدي سره په پټې اړیکې او مرسته یې کوي.
ښاغلي مالوي کریشنا دهر ( ۱) څرګندوي، چې څنګه د پاکستان اې اس اې له سي آی اې سره یو ځاې ګډکار کوي. تر څو چې پلان شوي بریدونه د یو بل تر بیرغ لاندې سره تنظیم کړي. څنګه چې مالوي کریشنا دهر د اې اس اې، سي آی اې او د سعودي شاهې استخباراتو اوالقاعدې اړیکې په اړه لیکې (۲). اې اس اې د سپیڅلې جهاد په نامه په هندوستان، افغانستان، متحده ایالات، انګلستان، بوسنیا، کوسوو، چرچینیا، تاجکستان، اوزبکستان، دچین کسینیانګ، اویګوري، فلیپین، هندونیزیا، مالیزیا، سویلې تایلند او په نورو هیوادو کې له ترهګرې څخه ملاتړ او مرسته ورسره کوي.
په ۲۰۰۱ کال کې د هند په پارلمان باندې ترهګریزه بریدونو له امله نږدې د هند او پاکستان ترمنځه جګړه پیل شي . بریدونه د دوو اورپکو ډلو له خوا چې په پاکستان کې اوسیږي ترسره شول .لشکرې طیبه او جهش محمدي ددواړو سره په پټه د پاکستان اې اس اې له خو ا مرسته کیږي . مایکل خوسودوفسکې لیکې . »
دا طبعې خبره ده چې اې اس اې ترهګریزه بریدونه تر سره کوي تر څو د امریکې متحده ایالاتو جیوسیاسي انترس ملاتړ وکړي. دوی نه یواځې دا هڅه کوي چې هندې اتحاد کمزوري او مات کړي، بلکې دوی د هند او پاکستان ترمنځه د جګړې لپاره شرایط رامنځته کوي.»
سعید شیخ دM۱٦ ( ۳ ) اجنټ او د یوولسم سپټمبر دمالې چار مرستکوتکې وو. جهش محمد ډله یواځې او یواځې د احمد عمرشیځ له خوا رامنځ ته شوه. د یو ولسم سپټمبر دویم نمبرمالې مرستکونکې محمد عطا ته له متحده عربې اماراتو څخه ۱۰۰۰۰۰ ډالر واستلول شول. د آ بي سي ټلویزیون په حواله، په ۱۹۹۳ کال کې شیخ د پاکستان له اې اس اې سره یو ځاې ګډ کار کاوه. په ۱۹۹۴ کال کې هغه د افغانستان د ترننګ کمپونو مشري کوله. د ښکاره شواهیدو پربنسټ د ترننګ کمپونه د سي آې اې له خوا تمویل شوي وو. دغو ترننګ کمپونو ته د بن لادن دمخکښ زوی نوم ورکړ شوي و.
د پاکستان پخوانې دیکتاتور پرویز مشرف له خولې، هغه مهال شیخ په لندن کې په لوړوزدوکړو بوخت وو، چې د M ۱٦ له خوا راجذب شو. تر څو د بوسنیا سیاسي حالات ګړکیچ کړي (۴).
شیخ سربیره پر دې د وال ستریت ژورنال خبریال په وژنه کې هم لاس درلود. هغه د اې اس اې په اړه پلټنې کولې .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په ۲۰۰۵ کال د برتانیا MP Oldham اولدهم او د کابیتي وزیر مایکل میجر له خولي لیکل کیږي . ،، دلوی برتانیا دسمندر هغه خوا لپاره امنیتي اورګانو نو مسلمانان یي په انګلستان کي را جزبول او لاربنونه ورته کوله تر چي د امریکي هڅو او لیوالتیو سره مرسته وکړي لکه په افغانستان او یوګوسلاویا کي کمونیستي رژیمونه له پښو وغورځوي او ړنګ یي کړي. دي په دهلي کي د پلټنو یوانستیتوت د اټکلونو پر بنسټ وایي، چي تر ۲۰۰ څخه ډیرمسلمانان د انګلستان څخه په پاکستان کي د پاکستاني استخباراتو اي اس اي تر څارني لاندي له وسله وال اسلامي مقاومت سره یو ځاي د افغاني کمونیستي رژیم او د دوی شوروي مرستندویانو په وړاندي په جګړه کي بوخت وو ،،. اسیا نیوز ریپوټ ورکوي. ښاغلي میلچر په خپلو څرګندولو او تورنولو کي له سعید شیخ څخه هم یاده ونه وکړه.

لیکوال لیکي، دمتحده ایالاتو پوځي ځواک د افغانستان د جګړي په سختوشیبو کي په زرګونه طالبان او مشران یي د هوایي پره له لاري پاکستان ته په الوتکو کي راوړل. اوس پاکستان د القاعدې، بن لادن او د طالبانو مرکز ګرځیدلي دی.

ــ د مخدره توکو قاچاق

تر ټولو حیرانوکي خبره دا ده چي څنګه په افغانستان کي د اپینو دکر کیلي او د حاصلاتو کچي دجکیدلو سره سره له زغم څخه کار اخیستل کیږي. د همدې خبرونو پربنسټ اپین او ګران بیه هیرویین د متحده ایالاتو د پوځ الوتکو له خوا ترانسپورټ کیږي. دساري په توګه په قرغزستان کي د مناز له هوایي اډي له لاري څخه وړل کیږي. دغه لار او کار و بار شدیداً پټ ساتل کیږي او د ملي امنیت تر پټ نامه لاندي تر سره کیږي. دغه تورنه د یو ښه مالومات لرونکي سیمزه استخباراتي سازمان له یو غړي له خوا رامنځ ته کیږي ــ جنرال حمید ګل :

په ۲۰۰۹ کال کي حمید ګل په واضح ډول په یو مرکه کي وویل.» عبدالولی کرزی په افغانستان کي تر ټولو لوی دمخدره توکوقاچاقبر دی. د ده په خبره د مخدره توکو قاچاقبران د وسلو په سوداګري چي په افغانستان یوه غوړیدلي سوداګري هم ده ،لاس لري .» نا ارامه کونکي خبره زما له انده دا ده چي، د پوځي الوتکو او امریکایي الوتکو له خوا یوه اندازه مخدره توکي ترانسپورټ تر سره کیږي.

د ترياکو لار د شمال څخه د اسیا مرکزي جمهوریتونو په لاري د روسي خاوري ته او له هغه ځاي څخه بیا اروپا او دنړی نورو برخو ته وړل کیږي . »

یوولسم د سپتمبر

په ۲۰۰۸ کال کي د پاکستان د اي اس اي پخواني مشر حمید ګل د الکس جانزون په تلویزیوني خپرونه کي د یوولسم د سپتمبر پیښي په اړه میلمه و،هغه په جزیاتو کي ولاړ وچي دا کار دکوم بل چا وو، مخکي له دی خپروني څخه دهغه مرکه د سي ان ان تلویزیون له خوا سانسور شوي وه.

حمید ګل د ۱۹۸۷ څخه تر ۱۹۸۹ کاله د پاکستان د خارګری اداري دنده تر سره کړي او د سي آي اي سره په افغانستان کي د شوروي اتحاد په وړاندي په پټه دنده تر سره کاوله. ده له هغو مجاهدینو سره مرسته کوله چي د امریکي ملاتړ ورسره وو . د سي ان ان تلویزیون ویاند په مرکه کي پر ګل لفظي تکونه وکړل او وویل، ستا دا ادعوي د یوولسم د سپتمبر په اړه په بنسټیزه توګه نا سمي دي .

حمید ګل د ثبوتونو لویه برخه چي ده وړاندي کړل وویل، چي د یوولسم سپتمبر بریدونه تر غلط بیرغ لاندي ترسره شول. دا خبره د سي ان ان له خوا هغه مهال سانسور شوه. دا خبره بیا د الکس جانزون په راډیو یي خپرونه کي سانسور نه شوه . ګل وایي، د یوولسم سپتمبر دبریدونو څخه دوه هفتي ورسته ده د UPI ( ۴ ) سره په خبروکي خپل نظر وړاندي کړو، چي د لویدیځ د ډلیزو رسنیو له خوا خپاره نه شول. د ګل سره مرکه په UPI کي په ژوندي بڼه اوریدل کیدي شي. دي وایي، زه تعجب کوم د تښتول شویو الوتکو پر وړاندې د امریکي هوایي ځواک په دومره ور وغبرګون ښودلو باندي.

»»» د یوولسم سپتمبر بریدونه د امریکي په خاوره کي تر سره شول، هیڅ څوک په امریکا کي په دي اړه و نه نیول شول. که څه هم د داسي عملیاتو د تر سره کولو لپاره په داسي یوه سیمه کي په لویه کچه لوژستیکي تیاري او ټوکو ته اړتیا شته »»» ګل د الکس جانزون په پروګرام کي نور ور زیاد کړل او وویل، د بریدونو پر مهال دفاعي جیټ الوتکي د تښتول شویو الوتکو په لور نه بلکي بل لوري ته وروالوځول شوي. دا ډیره حیرانوکي خبر ده چي تر ډیره مودې پوري د هوایي ځواک د کنټرول مرکز دغه بیرني راپور ورنکړو، تر څو چي د امریکي هوایي ځواک په سمه توګه د دغي پیښي مخه نیولي واي. دي بیا وایي، دفاعي جیټ الوتکو د هوایي ځواک له ډګر څخه را وغوښتل شوي، دوی د تښتول شویو الوتکو څخه په لري واټن کي الوتني کولي. هغه وخت چي تیر شو هغه ځنډت ډیر وخت وه، هغه ۱۲۰ دقیقي وي. دا وخت دفاعي اجراعاتو لپاره ډیر وخت و. هوایي ځواک ویده وه،که په ریښتیا ویده و نو ولي هیڅ څوک له خپلو دندو څخه ګوښه نه کړل شول ؟ دی بیا هم داسي پوښتنه کوي چي دا ناسم غبرګون د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

دوی د پاتي کيدولو په مانا نه دی، ولې هېڅ چا ته سزا ورنه کړل شوه او هيڅ څوک له دندې څخه ګوښه نه کړل شول ، هيڅ چا استعفا ورنه کره ؟

«دهوايي ځواک د الوتکود تګ او راتګ دکنترول مرکز بايد له سره کنترول شوي وای ، د ا د کنټرول مرکز بايد پر سر باندې دررول شوي وای، او همداسي نور اجراعات په دې اړه هېڅ تر سره نه شول » ګل بيا پوښتنه کوي او وايي ، څنګه له هلته موجودو ليکل شويو مقررات او لواحې څخه کار وا نه خيستل شو ؟

په تيرو وختونو کې امريکايي جيټ الوتکو په څو دقيقو کې د تښتول شويو الوتکو پسي را ورسيدې .په دغه قضيه کې هېڅ څه ونه شول. د متحده ايالاتو د الرام سيستم په دې اندازه پرمختللي دی، که يو توغندې له ماسکو څخه د نيويارک په لورې و توغول شي، د متحده ايالاتو د توغنديو سيستم کولې شي دغه توغندې د نهو دقيقو په منځه کې لمنځه يوسي. دغې سيستم هيڅ کوم فعاليت ونه کړواو هيڅ چا هڅه ونه کړه چې دا نيمګړتياوي تر پوښتني لاندې راولې.

ګل په پاې کې بيا ورزياتوي چې د تښتوونکو ناشونې قابليت د ۷۷ هنې هنجور الوتکې په اړه د الوتکې د ښوونکې له خولې وايې ، تښتوونکې لا سمه نورماله الوتنه نه شوې تر سره کولې ، ويل کيږي چې د دوی هغه مهال مانوروونه اجرآ کړل . داچار د امريکايي پوځ ډير ښو پوځې پيلوټان ګرانه ده چې پر پنټاګون باندې الوتکه وروغورځوي .

« د الوتکې جګوالې ۹۰۰۰ فوټه وه، په څو ثانيو کې بيا ۱۰۰۰ فوټو ته راټيټه شوه او بيا مستقيآ د موخې په لور وروالوتله. يو سړی چې په وړو الوتکو کې زدوکړه کړي وي ناشونې ده چې دا کار تر سره کړي . »

ګل وايې، ده په وارووار امريکايي خبريالان يې له دغه پوښتنو سره مخامخ کړي دي چې ولې تاسو د يوولسم د سپټمبر په اړه له نږدې پلټنې نه کوي . دوی ځواب ورکوي چې دهيواد پالني اکټ يا،، پټرويټ اکټ،، مو په لاره کې خنډ دی . دوی نه بايد داسي پوښتنې راوړلې او مطرح کړي .

د يوولسم سپټمبر په اړه د غبرګون ښودلو په ترڅ کې په نړۍ کې هر څه بدل او ګډود شول .

د غوو بريدونو تر شا تر ډيره بريده د جيو سياسي طبيعت انګيزې ولاړې دي. دا بريدونه د دې لپاره ترسره شول تر څو متحده ايالات هغو ستراتيجېکو سيمو ته ورننوځې چې د دوی حضور شتون نه درلود. ګل وايې له همدې سره دوی غواړي د چين مخه ډب کړي او دنړۍ انرجېکې لرونکې سيمي په منځنې ختيز اومرکزي سويلي اسيا کې تر کنټرول لاندې کړي . ګل يو له هغو متقايد جګپورې حکومتي چارواکو څخه دی چې د سپټمبر يوولسم بريدونه يې تر پوښتنو لاندې راوړې دي. د ۲۰۰۷ کال په دسامبر کې دايټاليا پخوانې ولسمشر فرانسيسکو کوسيګاه وايې، دا بريدونه سي آې اې او موساد په ګډه تر سره کړي دي .

لمنليک :

(۱)ښاغلې مالوي کريشنادهر په کولالمپور کې زږيدلې او د کلکتې په پوهنتون کې لوې زده کړې کړي دي .

(۲) Fulcrum of Evil: ISI, CIA, Al Qaeda Nexus

د برتانيا د استخباراتو يوه برخه

(۳)M۱٦

History Commons, Complete ۹۱۱ Timeline[۴] په دې اړه دا وګورۍ )

**United Press International (۵) UPI امريکايې ورځپانه**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ